جمال کټوازی ۲۰۱۱/۱۰/۱۹

# سترا تیژیکې تړون / سترا تیژیکی اعلا میه

( د اوږ مهالی همکاری تړون/ اعلا میه )

۱- سریزه
۲- سترا تیژیکې تړون/ سترا تیژیکی اعلا میه.
۳- ملی ګټې
۴- د افغان او امریکایي چاړواکو تر منځ د تړون د محتوا په هکله د اندونو تو پیرونه.
۵- د افغانستان او امریکا تر منځ سیا سي، اقتصادي او نظا مي اندول
۶- د تړون د لاسیک لپاره د افغانستان دولت تر مخ پرتي ستونځي.

**سریزه:**

هر هیواد خپلې ملي لنډ مهاله او اوږد مها له ګټي لري. کوم وخت چې د دوو یا ډیرو هیوادونو تر منځ کوم تړون لاسلیک کیږي، نو د هیوادونو استازي تر لویې کچې هڅې کوي تر څو د خپل هیواد ملي لنډ مهاله او اوږد مها له ګټي په نظر کي و نیسي. زمونږ ګران هیواد افغانستان په دا اخیرو لسیزو کې د ډیرو نا وړینونو سره مخامخ شوی. د نړی او د سیمی ځینی هیوادونو تر خپله وسه زیار ایستلی، تر څو د خپلو سیا سی، نظامی او اقتصادی ګټو په خاطر زمونږ هیواد د جګړو ډګر وګرزوی. چې دا لوبه اوس هم لا روانه ده!

**سترا تیژیکې تړون:**

تړون (قرارداد) د دوو یا ډیرو خواوو تر منځ د حتمي پلي کیدو پریکړه لیک ته وایي، چې د ځا نګړو ژمنو د تر سره کیدو لپاره لاسلیک او تر سره کیږي.

د دوو هیوادونو تر منځ تړون د هیوادونو د پا رلما نونو له خواه هو کړي ته اړ تیا لري او د پارلمانونو هو کړه حتمي ده.

**سترا تسژیکی اعلا میه:**

اعلا میه یو داسي سند ته ویل کیږي، چې هغه د دوو یا ډیرو خواوو تر منځ د ځانګړو ژمنو د پوره کیدو لپاره لاسلیک او تر سره کیږی، خو کوم ځا نګړی حقوقي وړتیا نلری. اعلا میه کیدای شي، چې د دوو هیوادونو د حکو متنو د استازو تر منځ لاسیک شي. د دوو هیوادونو تر منځ اعلا میه د هیوادونو د پارلمانونو هو کړي ته اړ تیا نه لري.

**ملی ګټې:**

د هر هیواد ملی ګټي د هغه هیواد په ځمکنی بشپړ تیا، سیاسي نظام او همدارنګه تولنیز، سیا سي، تا ریخي، فر هنګي، ملي او اقتصادي ارزښتنو کي نغښتي دي.

<u>د افغانستان لنډمهاله او اوږدمهاله ګټې</u>

۱- دافغانستان د ځمکنی بشپړ تیا نه په بشپړه تو ګه دفاع.
۲- د ملي اردو او ملی پو لیسو په پښو درول، تر څو ملی پولیس او ملي اردو په هیواد کي د بشپړ امنیت د را وستلو وړتیا تر لاسه کړي.
۳- د ا قتصاد ی بنسټیزه پروژو به پښو درول یا بیا رغونه او داسي نور.....
۴- په هیواد کي د مختلفو قومونو تر منځ د ملی یوالي د را وستلو او سا تولو لپاره ګړندی هڅې.

**د افغان او امریکایي چاړواکو تر منځ د تړون د محتوا په هکله د اندونو تو پیرونه.**

دافغانی چاړواکو غوښتني:

۱- په افغانستان کی د امریکایي سر تیرو شتون قا نوني کول( دهغوئ چلند باید د افغانستان د قو انینو سره سم وي).
۲- امر یکایان باید دشپې عملیات بند کړي.
۳- امریکا با ید په افغا نستان کي خپل زندانونه وتړی.
۴- تولي مرستي باید د افغانستان د دولت له خواه ولګول شي.
۵- د افغانستان په اقتصادي بنسټیزو پروژو کي باید امریکا پانګه اچونه وکړي.

**د افغانستان او امریکا تر منځ سیا سي، اقتصادي او نظا مي اندول.**

۱- په سیا سي، اقتصادي او نظامي اړخونو کي افغا نستان د امریکایانو مرستي ته اړتیا لري. که چیر ته د امریکا او نړیوالي تولني مرستي نوي، نو شاید چې د افغانستان دولت به د دي وړتیا ونلري تر څو د خپل دولت د کارکونکو د یوي میا شتي معاشو نه ورکړي؟


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

۲- په نظامي لحاظ، افغانستان د ځيني ګا وندیو هیوادنو تر ګواښ لاندي ده. او د افغانستان امنيتي ځواکونه نشي کولی چي په یوازی سر د هیواد د فا ع وکړي.
۳- د افغانستان ملي اردو او ملي پوځ په یوازی سر د دي وړتیا نلری، چي په هیواد کي د بشپړ امنیت را وستولو جو ګه شي.
۴- افغانان د خپل هیواد د بیا رغوني کابو په ټولوبر خوکي د امريکا او نورو نړیوالو مرستو ته اړتیا لر.
خو امريکایان هم په افغا نستان کی بیا خپلی سیاسي، اقتصادی او نظامي ګټي لري.
۱- د افغانستان او منځنی اسیا د ځینو هیوادونو لکه د تر کمنسان د کاسپین د سمندر کي طبعي زير مو ته ځان رسول
۲- د سیمي او د افغانستان د ځيني ګا وندیو هیوادونو ترنظامي اغیزي لاندي را وستل او داسي نور......
**دټرون د لاسیک کو لو لپاره د افغانستان دولت تر مخ پرتي ستو نځي.**
۱- دکورنی ملاتړ نشتوالی او په افغانستان کی د ځیني کورنی کړییوو مخالفت.
۲- بهرنی ملاتړ( د ګاوندیا نو او د سیمی هیوادونو ملاتړ) نشتوالی او دګاونډیوو او سیمی هیوادونو اندیښني
۳- د افغانستان او امريکا تر منځ د سیاسي، نظامي او اقتصادي انډول نشتوالی.
۴- په پارلمان کي ګډوډي.

پای

2011/10/19


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځير و لولـئ